# د تورو اوبو شير علي

صفيه حليم



انلاين کتاب ۲۰۱۰

# د توروا وبو شير علي

صفيه حليم

ځيړنه

۲۰۱۰م

ډېزاين

شامامود

www.safiahaleem.com

# ډالۍ

د هغو پښتنو په نوم چې تاریخ هېر کړي دي

www.safiahaleem.com

# د لیکوالې په اړه

د پښتو او د انګرېزي ژبو لیکواله او ژورنالیسټه صفیه حلیم، د بي بي سي د پښتو څانګې سره د کار نه وړاندې، معلمه وه.

صفیه حلیم په پېښور کې زېږېدلې ده. لومړی زدکړې او تر پوهنتون لوړې زدکړې هم په دې ښار کې تر سره کړې. د ښوونې او روزنې نه علاوه په انګرېزي ادبیاتو کې هم ماسټري لري او د سکاټلینډ د اېډنبرا پوهنتون نه یې د ژبپوهنې په برخه کې لوړې زدکړې تر سره کړې دي.



د سبق نه وروستو دا بیرته پېښور ته ولاړه او د زدکړې کار ته یې دوام ورکړو. هم هغه وخت د دې لومړې کتاب په انګلستان کې چاپ شو چې د انګرېزي ژبې د ښوونکو لپاره د لار ښود درسونه و.

په ۱۹۸۷ م کې د لنډ وخت لپاره په لندن او پېښور کې یې د بي بي سي لپاره ځینې پروګرامونه جوړ کړل او دوه کاله وروسته یې د پروډیوسر په حېث لندن کې دنده پیل کړه. څو کاله وروستو دا د پښتو څانګې مشره شوه او د لنډو کیسو څو کتابونه او یو ناول یې چاپ شول.

د ماشومتوب راهیسې صفیه حلیم د خپلې کورنۍ سره د لیرې سفرونو کیسې پخپل قلم لیکلې چې څو یې د هغه وخت په مجلو کې چاپ شوې. کابل او هند ته په ۱۹۹۱ د سفرونو حال یې په راډیوي پروگرامونو کې خپاره کړل. د دې د پښتو لومړې کتاب د "سند باد اوو سفرونه " و چې په ۱۹۹۳ م کې پېښور کې چاپ شو. د اروپایي ملکونو، ترکي، ایران، چین، مصر، جنوبي افریقه او د عرب هیوادونو ځینې یون لیکونه یې په بېلا بېلو مجلو کې خپر بدل. د نړیوالو ولسي کیسو ټولگه یې هم خپره شوې ده. د ښکلي کتاب په نامهٔ یې د نثرونو یوه ټولگه د دې په لاس جوړ شوي انځورونه هم لري.

په ۲۰۰۳ م کې صفیه حلیم د هندوستان د پښتنو په اړه د څېړنو او پلټنو لپاره هغه هېواد ته ولاړه. هلته نه راټول شوي معلومات یې یو ځاې کړل چې پر له پسې د شپږو کتابونو په شکل بازار ته راووتل.

د صفیه حلیم د پښتو چاپ شوي اثار

1. د سندباد اووه سفرونه (د ماشومانو ادبیات)ـ ۱۹۹۳ ـ
2. نیمگړی انځور (لنډې کیسې)ـ ۱۹۹۹ ـ
3. ښکلی کتاب (نثر)ـ ۲۰۰۱ م ـ
4. زبېښاک (ناول)ـ ۲۰۰۲ م ـ
5. د ډیوې په غېږ کې (لنډې کیسې)ـ ۲۰۰۳ م ـ

www.safiahaleem.com

6. د نړۍ ولسي کیسې (نړیوال ادبیات)ـ ۲۰۰۵م ـ
7. دنیا (ناول)ـ ۲۰۰۵م -
8. ښایست (لنډې کیسې) ـ ۲۰۰۷م -
9. د هندوستان پښتانه (بهوپال) (څېړنیز)۲۰۰۸م
10. د هندوستان پښتانه (مالیر کوټله) (څېړنیز) ـ ۲۰۰۹م-
11. د هندوستان پښتانه (بهار) (څېړنیز) ـ ۲۰۱۰م-
12. د هندوستان پښتانه (باره بستي) (څېړنیز) ـ ۲۰۱۱م -
13. ژورنالیزم (پوهنیز)ـ چاپکال ـ ۲۰۱۳م -
14. سواستو (ناول) ـ ۲۰۱۳م -
15. د هندوستان پښتانه ( روهېلکهنډ) ( څېړنیز) ۲۰۱۴م –
16. دوه کتابونه ( لنډې کیسې)
17. ټیپو سلطان او شاه زمان (تاریخ)
18. د لویې لوبې لوبغاړي ( هم دغه کتاب)
19. د تورو اوبو شیر علي ( آنلاین کتاب)

د کتابونو نه علاوه صفیه حلیم په سوونو علمي مقالې هم لیکلي دي چې د دې پرخپله ویبپاڼه یې لوستلې شئ.

www.safiahaleem.com

www.safiahaleem.com

# لیک لړ


۱. پیژند ګلوي
۲. د انډېمان جزیرې ( ټاپوان)
۳. زندانونه
۴. د جمرود شیر علي
۵. د انډېمان زندانیان
۶. د هند وایسراې
۷. پوښتنې ګروېږنې
۸. جرم که بدل
۹. اوسنې انډېمان
۱۰. سرچېنې


www.safiahaleem.com

# پېژندګلوي

تاسوکله د شېرعلي نوم اوریدلی دی؟ د اپریدو شېر علي. د نولسمې میلادي پېړۍ بندي شېر علي. . هغه شېر علي چې په تورو اوبو کې یې غرغره کړو... هو په دې جرم نه چې خپل تربور یې وژلی و. د هغه جرم لپاره خو ورته قاضي د ټول عمر د بند سزا ورکړې وه. ځکه خو یې تورو اوبو ته لیږلې و. تاسو د توروواوبو نه خبر یئ؟



کله چې په ماشومتوب کې ما د توروواوبو زکر واوریدو نو ځان سره مې دا انځور جوړ کړو چې په اوبوکې به چا توررنګ ګډ کړی وي، خو وروسته مې واوریدل چې د تورو اوبو د زکر سره خلک هېښ شي. غږ ورو کړي او کلیمه تېره کړي. یوځل مې د یوې ښځې له خولې دا ښېره واوریده چې " خدای یې د تورو اوبوبندي کړي " مور نه مې پوښتنه وکړه نو راته یې وویل، هر چا چې ډېر سخت جرم لکه قتل کړی وي ، هغه توروواوبو ته استوي. له هغه ځایه

بیا ځوک ژوندي نه راوځي. اخر په ښوونځي کی مې یوه ورځ د جغرافیې د ښوونکي نه وپوښتل، نو هغې راته په نقشه کې د بنګال د خلیج سره وړې جزیرې راوښودلې چې د انډیمان په نوم یادیږې. په هم دغو جزیرو یوه بندي خانه وه چې دهند له لوې وچې ورته د انګریز حکومت مجرمان ورلیږل کیده. په دې کی د سیاسي بندیانو شمیره زیاته وه.

www.safiahaleem.com

# د انډیمان جزیرې ( ټاپوان)

د هند په لویدیځ، د برما (ماینمار) په شمال او د انډونیزیا په جنوب کې څه ناڅه دوه سوه جزیرې دي. په دې کې زیات د هند او لږ د ماینمار په لاس کې دي. دوی ته د انډیمان او د نیکوبار جزیری وایي.

لکه د شاو خوا نورو ګرمو او نمژنو ملکونو، د انډیمان په جزیرو کې هم ونې




او بوټي ډیردي. خو ورسره د باران او اوبو ډیروالي نورو ژوو لپاره د غوړیدو امکان جوړوي. په ځینو جزیرو کې

دیرش زره کاله پخواني د انساني ژوند اثار موندل شوي دي او داسې اټکل کیږي چې شپېته زره کاله پخوا هم دلته انسان ژوند کړی دی. ولې د میاشو اومچانو د لاسه په ځینو ځایونو کی څوک ورتلای نشول. په کومو

ځایونو کې چې انسانانو پخوا ژوند کوو هغوی د خپل چاپېریال سره په ډېغرو وهلوله نورې نړۍ لیرې پاته شول.

د انډیمان نوم په لومړي ځل په نهمې میلادي پېړۍ کې د عرب جغرافیه لیکونکو په کتابونو کی راڅرګند شو. په لسمې میلادي پېړۍ کې د پارس یو لیکوال ابن شهریار پخپل کتاب عجایب الهند کی د انډیمان الکبیرنوم یادکړی دی او لیکي چې دلته اوسیدونکو قبایلو انسانان خوړل. په څوارلسمې میلادي پېړۍ کی اټالوي تجارمارکوپولو دا جزیرې د انګامانا ین په نوم یادې کړې دي. که څه هم دی پخپله هلته نه وورغلی خو دا یې لیکلي و چې دلته داوسیدونکوانسانانو سرونه لکه د سپو وي. په ۱۸۶۷ م کی دلته په سمندر کی یوه بېړۍ غرقه شوه نو له دې ژوندي پاته ۸۶ کسانو په یوې وړې کشتۍ کی د انډېمان د شمال سېنټېنل ټاپوته ځانونه ورسول خو هلته ځایي اوسیدونکو ورباندې حمله وکړه اوایله یو تن پکې ژندې په کشتۍ کې په تیښته ووتلو. ده د هغو خلک په اړه وویل چې دوی بربنډ ول او د اوسپنو څوکې لرونکو نېزې یې لرلې.

د وولسمې میلادي پېړۍ راهیسې چې خلک د نړۍ په ګوټ ګوټ کی د نویو ځایونو نه خبریدل، د انډیمان په اړه هم معلومات ولیکل شول. د

اټکل له مخې هغه وخت دلته د اصل اوسیدونکو شمېره د اوو او اتو زرو په منځ کې وه. د اتلسمې پېړۍ په لومړیو کې د مرهټو یو بحري مشر کانهوجي انګرې د انګرېزانو پر ضد د جنګ لپاره دلته خپله اډه جوړه کړې وه. په نولسمې پېړۍ کې داسې اټکل وشو چې انډیمان د سانسکرت او د ملایا د ژبو په ګډون جوړ توری دی او د هنومان ( هندي عقیده کې د شادو اسطوره) نوم دی، خودا یو کمزوری دلیل دی او ډېر خلک پرې باور نه کوي.

په ۱۷۸۹ م کې د بنګال انګرېز حکومت د اوسني انډیمان په جنوب ختیځ کې په چېتهم نومې جزیره څو ودانیو په جوړولو لاس پورې کړو. چې د پورټ بلېر په نوم یادیدو. دا د هغه انګرېز افسر کرنل بلېر نوم و چې دغه مستمره یې جوړه کړه. خودوه کاله وروسته دا ځای یې پرېښودواود انډیمان جنوب ختیځ کې یې یو بل ځای اباداو ورته یې د برتانیې د بحري ځواک دمشر کارنوالس نوم ورکړو. خو په دې ځای کې د ملاریا او د نس ناستې په وبا دومره خلک مړه شول چې په ۱۷۹۶ م کې انګرېزانو له دې ځای خپل خلک وویستل.

په ۱۸۲۴ کې د برما د لومړي جنګ پر وخت د انګرېزانو پوځ وړونکې بېړۍ به په دې لارې تېریدې. د ۱۸۳۰ نه تر ۱۸۴۰ م هغه بېړۍ چې په


www.saftanaleem.com


طوفان کی راګیرې شوې، ددوی ماڼګي او ژوندي کسان که به دې ټاپوګانو ته ورغلل نو ځايي خلکو به ورباندې حمله وکړه او وبه يې وژل.
په ۱۸۵۵ م کی د هند انګریز ښکېلاک ګرو په دې جزیرو د یوې بلې مستمرې او د یوې بندي خانې د جوړولو وړاندیز وکړو خودوه کاله وروسته په هند کی د ازادۍ دپاڅون سره دا پلان و ځنډیدو. په دې پاڅون کې انګرېزانو د هند دومره خلک ونیول چې زندانونه ترې ډک شول. هغه وخت په انډیمان کی د بندي خانې جوړولو ته چټکه اړتیا پیدا شوه. په ۱۸۵۷ کال د نومبر په میاشت کی په پورټ بلېر کی د بندیانو پر مټ د جوړښت کارپېل شو. هغه برخه چې مالګین جبه زار يې لرلو اوډېرې ستونزې يې زېږولې، د هغې نه ډېره وشوه او دا سیمه ودانه شوه. .د یو څه مودې لپاره دلته ناروغۍ او مړینې ډېرې وې خو ورو ورو د دلدلي ځمکو د رالاندې کولو او د ځنګلونو د وهلو کار روان و.
انګرېزانو کله چې په هند کی خپلې پښې ښخې کړې نو د بندیانو "خبر ښبګړې " ته يې پام شو. په انډیمان کې اوس څوجزیرو کې بار کونه، او د پوځ لپاره نورې ودانۍ جوړې شوې. یو وخت دلته ۱۴۰ انګرېزان او ۳۰۰ هندي عسکر مېشت ول. په لږ شمېر کې داوطلب اروپايي کارکوونکي هم و. د بندیانو شمېره دیولسو زرو نه هم اوښتې وه چې په څلورو زندانو

يې ويشلي و. په وايپر نومې ټاپو کې به خطرناکه مجرمان ساتل کېدل او دلته به د مرگ په سزا محکوم خلک غرغره کيدل.

هيڅوک په باور نشي ويلې چې د تورو اوبو نوم له کله راهيسې رواج شو. يوه کيسه داې ده،کله چې بنديان به د بنگال د ساحلونو نه په بېړيو کې دې جزيرو ته ورسيدل نوسپېده به نه وه چاوديدلې او دوی ته به د سمندراوبه تکې تورې ښکاريدې. په انډيمان کې د گڼو ځنگلونو له کبله هسې هم اوبه تور ښکاري. يو بل دليل يې هغه جبه زارونه و چې ختې يې تورې اوښتې وې. خو تر ټولو معقوله خبره دا ده. هغه اوبه چې د ساحل سره نږدې وي، شنې اوبه وي او ژورې نه وي. هر څومره چې څوک ژورو اوبو ته ورننوځي د اوبو رنگ هم بدلېږي. هم دا ده چې د ژورواوبو لپاره په هندي کی کالا پاني ( تورو اوبو) تورې کارېږي. د انډېمان جزيرې د هند د ساحل نه ډېر لرې او په ژورو اوبو کې دي نو دا نوم خلکوپه اسانه وکاروو.

# زندانونه

د انډېمان په ټاپوانوکې به عاموبندیانوځان ته ډوډی پخپله پېدا کوله.
دلته په څوکلیو کې د بېگار مزدوران به په کرکرهنې بوخت او ځان له
ساتل شوي و. تر شلمې پېړۍ د داسی کلیو شمېره ۳۸ ته ورسیده . هغه
بندیان چې د تېښتې امکان یې ډېر او یا خطرناک گڼل کیده په پنبوکې



دزولنوسره کارونه به یې کول. دلته د ساتندویانوکورنی، د هغوی
ماشومان او نورخدمتیان هم اوسیدل . ورسره واړه هټی وال او مزدوران
هم وچې ورو ورو ددوی شمېره هم په زیاتیدو وه.
د نولسمې پېړۍ تر وروستیو دلته څلور روغتونونه و چې پکې د هر چا
علاج مفت و. د پېرنگیانو دحکومتي دوسیو تر مخه، کال کې په هر یو

بندي د شپږو پونډو لګښت کيدوچې په اوس حساب شپږ سوه کيږي. د يو ټاپو نه بل ته د ورتلو لپاره وړې او لويې کشتۍ کاريدې او د هرې کشتۍ د تګ راتګ وخت معلوم و. په دې کې يو ټاپو، "راس " نوميدو چې ورباندې د رڼا مناره جوړه وه او دېرش کلوميټر لرې نه يې رڼا ښکاريده. پوليسو د شپې رڼا او د ورځې وړو رنګينو بېرغونو په وسيله د نوروټاپوګانو سره اړيکې لرلې. دلته ډاکخانه ( پوسټ) هم وه. د شلمې پيړۍ په سر کې د انډيمان په راس ټاپو کې هغه پر مختللی زندان جوړ شو چې درې برخې يې اوس هم پاته دي اود هند حکومت د يو تاريخي ځای په توګه ساتلی دي. دا زندان لکه د بايسکل د پايې په شان د اوو ودانيو يوڅرخ په څېر جوړ و چې د يو بندي لپاره يې يوه کوټه ( سېل) لرله. هره يوه کوټه څلورنيم ميټره اوږده اودوه نيم ميټره پلنه وه. د دې په درې ميټر لوړ دېوال کې يو روشندان (هوادان) جوړ و. دا کوټې يې داسې ډيزاين کړې وې چې يو بندي به بل نشو ليدای. ټولټال ۶۹۸ کوټې په دريو پوړونو کې جوړې وې. د دې ودانيو يو سر په منځ کې د څار د برج سره انښتې و چې د هرې کوټې څارنه ترې کيداې شوه. په برج يو لوی زنګ ځوړند و چې د خطر پر وخت به غږول کيدو. وايپر جزيره ځان له ګوښې ده اوخلک پکې نه اوسيدل. . دا جزيره د پورټ بلېر د بندر

www.sattaleem.com

نه وراخوا په لږو ژور اوبو کې دې.  د وایپر نوم د هغه بېړۍ نه اخستل شوې دی چې لفټیننټ ارچیبالډ بلېر پکې په ۱۷۸۹ م کې دې جزیرو ته ورغلې و. د دې ساحلونه شګلن دي او ښکلې وونې او بوټې لري. انګرېزانو به تر ټولو خطرناکه مجرمان دلته ساتل چې په پښو کې به یې بېړۍ وې او سخت کارونه به یې تر سره کول. شېرعلي هم دلته غرغره کړی شو.

مقتول نواب

رچرډ ساوت وېل په ۲۱ فروري، ۱۸۲۲ م کی د ایرلېنډ په ډبلن ښار کې زېږېدلی اوهلته د میو نومې کورنۍ د پینځم ارل ( نواب) مشر زوی و. دی د پلار د مړینې نه وروسته د میو شپږم نواب ( ارل ) شوچې د لارډ نېش په نوم یې شهرت لرلو. تر شلو کالو دی د برتانیې  په پارلیمان کی د ایرلېنډ د ښېلا ښېلو برخو استازی پاته شو او په ۱۸۶۸ م کی د هند وایسرای وټاکل شو. وایسرای د برتانیې هغه لوړه عهده وه چې د مستمرو مشرانو ته به یې ورکوله. په دې توګه هغه د هند د لویې وچې باچا ګڼل کیدو. ده د انتظامي اصلاحاتو لپاره نوم لرلو او د هند په اداري چارو کې یې بدلونونه راوستل. د ده په نوم ځینې ودانۍ اوس هم شته چې یو یې په لاهور کی میوروغتون دې. لارډ میو یو ښه منتظم و. پخپلو ډېرو اصلاحاتو کې یې یو د هند په بندي خانو کې ډسپلن راوستل و. د

نولسمې پېړۍ په وروستیو کې د انډېمان په بندي خانو د ملاریا له کبله ډېر خلک به مړه کیدل. په ډېرو کسانو کی د سلو نه زیات به د ملاریا له لاسه مړه کیدل. خو د لارډ میو او لارنس په اصلاحاتو دا شمېره په زرو کی لسو ته راټیته شوه. لارډ میو د انډېمان د راتلونکي په اړه ډېر خواشینی و. هغه په دې تمه و چې دا مستمره به خودکفا شي چې هغه وخت پکې شل زره کسان اوسیدل. هم دا وه چې په ۱۸۷۱ م کې یې د پورټ بلېر د زندانونو لپاره د اصولو او د چلن قانون جوړ کړو.

په لومړي سرکي هغه غوښتل چې له بندیانو سره دې، نه ډېر سخت او نه ډېر نرم چلن وشي. د دی سره سره د هغوګوتو په شمېر انګرېز افسرانو ژوند دي هم خوندي شي چې هلته د انتظام لپاره ساتل شوي و. په دویم لړ کي هغه دا هوډ کړی و چې هغه بې وزله بندیان چې بېرته نشول تلای هغوی ته په جزیرو کې د اوسیدواسناد اواسانتیاوې ورکړي چې د ازادو انسانانو په څیر ژوند وکړای شي. د دی لپاره هغه بندیانو ته د زراعت ، د څاروو د خسمانې، د سڼ (پټ سن) او د کتان د کروندې اسانتیاوې ورکول غوښتل. د دې لپاره به هغو بندیانو ته په جېلونو کی د زدکړې پلان هم جوړ و. هغه د دې کار پلوي کوله چې د کورونو د جوړولو لپاره د دې جزیرو خپل لرګې دي وکارول شي نه چې د بهر نه ورته لرګې راوړل

شي. هغه دا هم غوښتل چې دلته ځاي پوليس پکار و چې د نور هند سره اړيکې وساتلې شي. په دې اساس هغه غوښتل چې دا مستمره دې په قوي اقتصادي بنيادونوولاړه وي.
د جېلونو لپاره دا قوانين او اصول دلارډ ميو تر څارنې لاندې وليکل شول. هغه خپل تکړه پوځي افسر ستوارټ ته د دې اصولو د پلي کولو کار وسپارلو. چې وروسته د ډگر جنرال رتبې ته ورسيدو. ستوارټ تر شپږو مياشتو په انډيمان کې کار وکړو او د دی لپاره چې خپل مشر لارډ ميو ته هغه مشکلات ورپه گوته کړي چې د ده د قوانينو په عملي کولو کي ورته پېښ و، ده ته يې بلنه ورکړه چې راشي. ده غوښتل چې په انډيمان کی هر څه ورته ښکاره کړي. خو د ده د بلنې څه ځواب را نغې او لږه موده وروسته هغه د وايسراې شخصي سکتر ته پېغام ورکړو چې "اوس يو څه پرمختگ شوی دی. خو زما تلوسه ده چې پخوا له دې چې مونږ د جزيرې د پاکولو کار پيل کړو لارډ ميو دي پخپلو سترگو ووينې چې څه مو ترلاسه کړي دي. هيڅوک تر هغې په دې ځاې نشي پوهيدای تر څو چې پخپلو سترگو يې هر څه نه وي ليدلي. زه د گورنر جنرال د سفر په انتظار يم چې ټولې معاملې دي پخپله سمې کړي "

د جنوري پر څلیریشتمه نېټه ۱۸۷۲ م د کلکتې په بندر لوی شمېر خلک راټول و. دوی د هند د وایسرای لارډ میو او د ده سره ملې ډلې ته ولاړ ول چې انډېمان ته یې رخصت کړي. په دوی کې د بنګال نایب والي، نورچارواکي او د وایسراې ملګري شامل و. دا کسان په دوو توښینو ببېړیو( هغه ببېړۍ چې د اوبو د لوخړې په وسیله چلیږي) چې یوه یې ګلاسګو او بله یې ډاکه نومیدل سپاره و. دا دواړه د هندي برتانیې د یو شرکت ببېړۍ وې. په ساحل ولاړو خلکو ورته لاسونه پړکول او د خوشالۍ نارې یې وهلې خو لارډ میو په هغه سهار یو څه تلوسې نیولې و.
په افغانستان کې هغه وخت د روسیې خطر زیات شوې و. دوی په تېرو څو کالو کی د مرکزي اسیا سیمې ورو ورو پخپل کنټرول کی واخیستې او په هند کې انګرېزان ویرېدل چې دوی به افغانستان هم رالاندې کړي. د برتانیې استازي به په پښتونخوا کې پراته او د ځینو سفرونه له خطر ډک و. د لومړي افغان - انګلیس جنګ اغېزې، د ډاکتر برایډن حال تر اوسه له پېرنګیانو لاره ورکه کړې وه. لارډ میو هم دغسې د یو استازي د خوندي ببېرته راتګ په اړه تلوسې نیولې و. هغه خپل دفتر کې دا امر پر ببینښې و چې که څه مهم خبر و نو ده سره دی سمدلاسه اړیکې ټینګې شي او که کوم بد خبر ده ته په برما کی ورسیدو نو دی به انډېمان ته نه

www.safahaleem.com

ځي او کلکتې ته به بېرته راوګرځي. کله چې دی برما ته ورسیدو نو یو شمېر پېغامونه يې د تار( ټېلېګرام ) د لارې تر لاسه کړل چې هر څه سم روان دي  او په شمال لوېدیځ سرحد په سیمه کی څه بدلون نه دی راغلې.  په دې خبرونو د هغه زړه ډاډه شو نو د فرورۍ په پینځمه نېټه دی د مولمین نه روان شو اودرې ورځې وروسته د ده بېړۍ د انډېمان د هوپ نومي بندري ښار کې لنګر واچوو.

www.safiahaleem.com

# د جمرود شیر علي

د ۱۸۵۷ م د انګرېزانو پر ضد د هند د خلکو په پاڅون ( غدر ) کې انګرېزانو په پوځ کی د پنجاب او د خېبر د سیمې پښتانه په لوی شمېر کې اخیستل شوي و. د شېرعلي په نوم یو ځوان په هم هغه وختونو کې نوی برتي شوی و. د دې هندی پوځي په دوسیه کې



داسي لیکل شوي و:

شېر علي، د پلار نوم ولي.

مسلمان . د پښتون د کوکي خېل قبیلې غړې

عمر. پنځویشت کاله

قد.۵ فټ او شپږ انچه

شیر علي لومړی په ډېلي کې د مېجر هیو جېمز سره په چاونۍ کی پیاده (اردلي) و. په غدر (پاڅون) کی ډیلي د ټول هندنه ورغلوباغیانو ( مجاهدینو) په لاس کی وه او انګرېزانو هغه وخت پخپلې دفاع کې له یوې غونډۍ جګړه کوله. ښاي شیرعلي په دې سختو ورځو کې د

www.saflahaleem.com

انگرېزانو سره خپل پت پاللې وي او دوی یې له مېړانې دومره خوښ شول چې کله د هند پاخون پاې ته ورسیدو نودې د سپرو پولیسو په ډله کی شامل کړی شو. وروسته دی د رینېل ټېلرپه ملازمت کې و او هغه ورله یو اس، یوه توپانچه او یو سند په انعام کې ورکړې و. شیر علي په ۱۸۶۳ م کې د امبېلې په جنگ کې هم د انگرېزانو په هغه ډله کې شامل و چې د پښتنو سره جنگیدله. د ۱۸۶۷ م راهیسې شېر علي په پېښور کې د کرنل پولک په ملازمت کې و.

دا چې شېر علي یو تن حېدر ولې ووژلو، د پنجاب خلکو دا کیسه جوړه کړې ده. "په ۱۸۶۷م کې دی یوواری په چوټۍ ( رخصتی )جمرود کې خپل کور ته ولاړو . هلته ده خپله ځمکه د یو سود خور حېدر سره گرو ایښې وه . شېر علي غوښتل چې د هغه نه خپله زمکه راخلاصه کړي . خو دا لانجه حل نه وه چې حېدر ووژل شو. شېر علي په دی تورن شو چې هغه د حېدر قاتل دی. شېر علي د دی قتل نه انکار وکړو خو بیا هم د ټول عمري بند سزا ورته ورکړې شوه. "

د پنجاب سیکان شېر علي ته د یو اتل په سترگه گوري خو دا کیسه ریښتیا نه ده ځکه حېدر نومې کس په پېښور چاوڼۍ کی دکمپني باغ سره ( اوس دی ته خالد بن ولید باغ وایي) په رڼا ورځ وژل شوې و. دا

ځاې د انګرېز پوځي افسر او د کمشنر د دفتر سره نږدې و. دا هغه وخت و چې د انګرېزانو چاونۍ ته به څوک دومره په اسانه نشول ورتلای او په ځینوځایونو کې داسې نښې (لوحې) ودرول شوې وې چې پرې لیکلي به و: "دلته د ځاي خلکواو د سپو داخله ممنوع ده ". په یو داسې ځاې کی قتل د نه منلو خبره وه او دا پوښتنه هم وشوه چې حېدر هلته څنګه ورسیدو؟

حېدرد جمرود په سیمه کې د کودوم اوسیدونکې واو په ځینو سرچینو کې راغلي دي چې دی د شیر علي تربور و. د انګرېزانوپه پلټنوکې څرګنده شوه چې د شیرعلي او حېدر تر منځ پخوانۍ تربګني وه اودپېښې په وخت شېر علي د حېدر د قتل ځای ته ډېر نږدې و. حېدر د ده معلوم دښمن و او ټول شک په هم ده کیدو. شېر علي سمدلاسه ونیول شوخو ده انکار وکړو او ویې ویل چې دې هغه وخت د کرنل پولک کورته روان و چې د پېښې ځاې ته نږدې و. خو دا وضاحت د هغه د بري لپاره کافي نه و. شیر علي په قتل تورن ، محاکمه او د انګرېز د قانون تر مخې د اپرېل په دوهمه نېټه ۱۸۶۷ م کې د ده لپاره د مرګ سزا فېصله وشوه. . دا د شیر علي د توقع خلاف کار و. هغه که دا جرم کړې هم و نو ځان یې د دې سزا وړ نه ګڼلو. په پښتنو کی بدل اخیستل جرم نه وي او انګرېزان د قبایلي

ژوند په پوهیدو کی پاته راغلل. شیر علي د انگرېز په قانون نه پوهیدو. ده په ۱۸۵۷ م کی د خدمت او د پت پالنې په بدل کې له انگرېزانو دا تمه وه چې ټول عمر به ورسره ښه چلن کوي. دکرنل پولک په سفارش د ده سزا په عمري بند واړول شوه.

دا چې شېر علي د پنجاب د جېل نه ولې انډېمان ته ورواستول شو، د انگرېز انو دوسیه د دی وضاحت نه ورکوي. خو د خپلواکۍ د پاڅون پېښې لیکونکي په دی اړه خپله کیسه لري. په سرگذشت مجاهدین نومې کتاب کی مولانا غلام رسول مهر لیکي. په بندي خانه کی " شېر علي یو ځلې خپلې زولنۍ ماتې کړې او کله چې محافظانو یې د نیولو هڅه وکړه نو هغه ددوی د لاسه ټوپک راښکلو."

ښاي دا کیسه هم ریښتیا نه وي ځکه د شیرعلي په اړه انگرېزانو هر ځای لیکلي دي چې دی یو ډېر نرم طبیعته کس و. په ۱۸۶۹ م کې دی د ملتان، کراچي او د بمبۍ د لارې د انډېمان جزیرې ته یوړل شو. هلته د قتل د نورو مجرمانوپه شان شیر علي د انگرېز تر څارنې لاندې ژوند پېل کړو. دې ډېر مذهبي کس و او پینځه واړه وخته لمونځ یې کاوو. په بند کې ده ته چې څه لږې پېسې ورکړې کیدې هغه به یې نورو ته ورکولې. هر دوېمه درېمه میاشت به یې د ډوډۍ خېرات ورکاوو. ده سره یو وارې د

پينځو پونډو ( پاو) اوږه ونيول شول چې يو جرم وګڼل شو خو د دی نه علاوه شيرعلي يو مودب کس او د ښو اخلاقو خاوند و.

دوه کاله وروسته کله چې د جېل مشران په دې ډاده شول چې شير علي به ورته خطر نه وي نو د هغه له پښو بېړۍ ليرې کړی شوې او ده ته يې د رېرو خربيلو او د ويښتو د جوړولو کسب ورزده کړو. د ۱۸۷۱ راهيسې شير علي په پورټ بلېر کې د يو سلماني په توګه کار کاوو.

www.safiahaleem.com

# د اندېمان زندانیان

په شلمې پېړۍ کې د اندېمان د جېلونو حالت د بندیانو له خولې نورو خلکو ته ورسیدو او خلک خبر شول چې هلته څه تیرېدل. د دې نه وړاندې هم په څو کلونو کې داسې بوږنونکو کیسو هند ته کډه کړې وه چې د تورو اوبو یوکړغېړن انځور یې خلکو ته ورکاو. دا چې د زندانیانو خواړه د انسان د خوړو وړ نه ول. کله چې دوی به له سپورې ډوډۍ نمړۍ ماته کړه نو چینجي به پکې ښکاره شول. د ترکاري په نوم به یې وحشي وابنه په اوبو کی اېشولي او د لاوڼ په نوم به یې ورته ورکول. د ځنبلو لپاره به د باران اوبه وې چې له چینجو اوکیرړو ډکې وې. د دوی کوټې تیرې او نمژنې وې. د خوب لپاره یې ورته وچ وابنه ورکول . په دې کوټو کې د حاجت ځایونه و او ځوک چې کوټو ته نږدې کیدل نو له بونې به یې سپېږمې سوزیدې. په دې کوټو کې رڼا نه وه. زندانیانو ته د یوبل سره د خبرو یا د لیدو اجازه نه وه. د جېل ساتندویانو به بندیانو ته جسمي سزاګانې ورکولې او په دورو به یې وهل .دوی ته به یې ښکنځلې او سپکې سپورې ویلې.

www.safiahaleem.com

د انډېمان لويې وړې جزيرې د هغو انګرېزانو په نومونو يادېدلې چې د هند د ۱۸۵۷ م د خپلواکۍ په پاڅون کې يې ډېره مېړانه ښودلې وه اود پاڅون مخ کښان يې وژلي ول. د يوې جزيرې نوم نيل و، د بلې هېولاک، د بلې لارنس. هم دلته د هغه پاڅون بې شمېره بنديان ساتل شوي ول. په ۱۸۶۸ م کال د مارچ په مياشت کې ۲۳۸ زندانيانو له دې جزيرو د تېښتې هڅه وکړه. خو د اپرېل تر مياشتې ټول ونيول شول. يو تن پکې ځان ووژلو او په پاته کسانو کې ۸۷ غرغره کړی شول.

انګرېزانو د پټنې او ډېلي ډېر مسلمان مشران تورو اوبو ته وراستولي و چې پکې محمد جعفر تهانيسري، يحيا علي او مولوي احمد الله مخه ور و. دوی د اتو نوروکسانو سره يو ځای په امباله کې په اپرېل ۱۸۶۴ م کې په دې تور محاکمه شوي و چې دوی د غدر لپاره پلان جوړ کړی و. دوی ټولو ته د غرغرې سزا ورکړی شوه خو انګرېز په دې وېرېدو چې د غرغرې سره دا خلک به د شهيدانو په توګه نومیالي شي اوخلک به يې يادګاري ځلي جوړوي، هم دا وه چې وروسته يې د ټول عمري بند کی انډېمان ته وروا‌ستول. دا ټول مشران د انګرېز په نظر د وهابي نظر خاوندان و. تر ۱۸۷۰ م انګرېزانو دعوا کوله چې دوی په هند کې د وهابي تحريک جرړې هم ويستلې وې. خو په ۱۸۷۸، ۱۸۹۰ او ۱۹۱۹ کی په خبر

اوپښتونخوا په نورو سیمو کی د پښتنو د هر یو پاڅون پر ضد انګرېزانو لښکر کشي وکړه او دا به يې د وهابي تحریک سره تړل.
شرمن په ۲۰۰۶ م کې لیکي چې په هند کې د انګرېزانو د راج پر وخت قضايي سيستم ګډ وډ و اوډېروخت د پېښې د پلټنو پر ځاې احساسات او شک نه کاراخیستل کیدو. چارواکو به بې له دې چې د یوې قضیې په اړه يې پوښتنې ګروېږنې کولې ،چې څوک ملامته او څوک بې ګناه و، دوی به د سزاګانو فېصلې وکړې. بیا د دې فېصلو پر ضد به اپیل کیدو، او خلکو به انګرېزانو ته مینت زارۍ کولې، چې په نتیجه کې به زیات وخت دوی په سزا کې نرمښت راوستلو یا هغه به يې وبخښلو. د دې چلن نه د واکمنو انګرېزانو یو هدف دا و، چې د هند عاموخلکو ته وروښاي چې دوی څومره نرم او باانصافه و. نالوستو او بې وزلو خلکو به په خپلو سیمو کې د دوی د انصاف ډنډورې غږولې چې د انګرېزانو په ګټه وه.



www.safahaleem.com

# د هند وایسراې

د انډېمان د زندان مشر ته د لارډ میو له خوا دا ټینګار شوی و چې د ده د رسمي سفر پر وخت هلته دي ټولې ورځنۍ چارې د نورو ورځو په شان وساتل شي . هغه غوښتل چې بندیان چې ځنګه د ورځې خپل کارونه تر سره کوي هغه دي جاري وي چې دې پخپلو سترګو ټولې چارې ووینې.



د ده د غوښتنې سره سم ټول بندیان د فروري په اتمه نېټه پخپلو ځایونو نورو ورځو په شان په کار بوخت و، خو د مهم مېلمه د امنیېت لپاره مناسب ګامونه پورته کړی شوي و. د وایسرای لارډ میو نه وړاندې، وروسته ، ښي اوګس لاس ته د پولیسو ډلې وې. د وایپر اوراس نومې بندي خانو کې چې خطرناکه مجرمان پکې ساتل کیده، چار واکود امنیت ځانګړې انتظام کړی و. د بندیانو لوې شمېرې غوښتل چې د وایسراې مخې ته



www.afiahaleem.com

ځان ورواچوي او د ده د سفر پر وياړ له هغه د رحم او بخښنې اپيل وکړي. کوم بنديان چې به ده ته نږدې شول، پوليسو به ټېل وهل. خو يودوو به ورته ځانونه نږدې ورسول او ليکلې عرضي به يې نږدې چار واکي ته وړاندې کړه ، په دې هيله چې هغه به يې وايسراى ته وروسپاري. لارډ ميو به داسې کسانو ته په زړه سواندې نظر وکتل او لوز به يې وکړو چې د دوى په خواست به نظر وکړي. هغه په سخت لمر او ګرمۍ کې څو ساعته روان و او ډېر په احتياط يې هر څه له نظره تېرول چې کومو کوموځايونو کې د اصلاح اړتيا وه. يو څو واري چې د پوليسو ډلې د خلکو په لرې ساتلو کې پاته راغلل او وايسراې د دې جوګه نه و چې په ازاده يې له نږدې ځايونه کتلي واى نوله مخ يې څرګنده شوه چې دى ناراضه و.
د هغه ورور مېجر اېډورډ چې په هند کې د وايسراى پوځي صلاحکار و ورته د احتياط ويلي و. هم دغسې د ده شخصي سکتر ورته خواست کړى و، چې د بنديانو په منځ کې د ګرځېدو پر وخت دې پام وکړي چې دوى ورته ډېر نږدې نشي. هغوى ورته څو ورځې وړاندې په بنګال کې د هغه ځاى د انګرېز قاضي القضات د وژنې پېښه ورياده کړې وه چې د خلکو په ګڼه کې عبدالله نومې پښتون ورباندې دنګلي ول. لارډ ميوورته ډاډ ورکړې و خو دا يې هم ويل چې کله چې داسې پيښې کيږي نو په يوه

شپېبه کې هر څه وشي. او هر څومره که د ساتندویانو شمېره درسره وي، د یو داسې هوډمن کس مخه څوک نشي نیولی چې ګوزار ته یې ملا تړلې وي. بیا هم ددوی دواړو او د ډېرو نورو کسانو د خوشالولو لپاره لارډ میو د لرګي یو کوتک چې په سر یې اوسپنه لګیدلې وه، په لاس کی اخیستل منلي ول چې د ګرځیدو پر وخت به یې په لاس کی تاوولو راتاوولو. د بندي خانو د معاینې نه وروسته کله چې دې بېرته بېړۍ ته روان و نو هم دا کوتک یې په لاس کې و.

د ماځیګر پینځه بجې شوې خو په اندېمان کې د ورځې رڼا تر اوسه خپره وه. د لارډ میو رسمي سفرپای ته رسیدلي و خو د بېرته تلو نه وړاندې یې دوه نورکارونه غوښتل. یو یې سرکاري دنده وه او بله شخصي. سرکاري دنده دا وه چې د بندیانو د علاج لپاره د یو روغتون د جوړولو پلان پر ځای کړي ځکه اوس هم ډېر کسان به د ملاریا د لاسه وژل کیده. دویم هغه غوښتل چې د یوې غونډۍ په سر د لمر د ډوبیدو ننداره وکړي. هغه وویل، " مونږ اوس هم یو ساعت د ورځې رڼا لرو، راځۍ چې د هېریټ غونډۍ ته وخیژو. د زندان مشر سمدلاسه د یو شمېر ساتندویانو ډله په وړې کشتۍ کی د چېتهم جزیرې نه د هوپ ټاون جېټي ته ورواستاوله. جېټي هغه انساني جوړښت وي چې د سمندر په ساحل د وړو کشتیو تم

ځاې وي. د ساحل نه تر سمندر د تیږو او د لرګي یو اوږده لاره د هغو خلک د تګ لپاره جوړه وي چې کشتیو ته ورخیژي.

کله چې لارد میو د هېریټ سره نږدې له کشتۍ ښکته شو نو ویې لیدل چې د ده سره مله ځینې مېلمانه له وړاندې هلته رسیدلي او ځانونه یې هوسا کړي و. لارډ میو د ټولو حال وپوښتلو او مېلمنو ولیدل چې د ټوله ورځ د کارونو او شپږ ساعته په لمر کې د ګرځیدونه وروسته هم دې تازه ښکاریدو. هغه ټولو ته ناره کړه، " راځۍ چې دلمرد ډوبیدوښکلې ننداره وکړو. " مېلمانه د ده په تلوسه اغېز من اوورپسې روان شول. لارډ میو تر ټولو وړاندې او ګړندي ګامونه اخیستل . د هېریټ غونډۍ لمنې ته ورسیدل نو هغه وخت د ده پام خپل باډي ګارډ ته شو چې ډېر ستړې ښکاریدو. لارډ میو پرې زړه وسو او ورته یې په ورو غږ هم هلته د کښېناستو وویل چې د ماښام د هوا خوند واخلي.

د بندي خانې مشر په غونډۍ د ورختلو لپاره د وایسرای د سورلي لپاره یواس ورلیږلې و . خو لارډ میو په دې اعتراض وکړو چې نور خلک به په پښوروان وي او دی به په اس سپور وي. خو د مېلمنود بیا بیا خواست نه وروسته دی په اس سپورشو. اس یوڅو قدمه اخیستي و چې ده ترې راټوپ کړل او ویې ویل، ما خپل وار پوره کړو زه په پښووړځم ، اوس بل

څوک دي پرې کښېني. ټول کسان د غونډۍ سر ته ورسیدل نو لاړه میو هلته چارچاپیره د زمکې معاینه اوهلته د روغتون د جوړولو په امکان دخپلو مشاورور سره خبرې پېل کړې. "دا ځاې څومره پراخ دی. دلته خودوه میلینه خلک ځایدای شي "

خپل رسمي کار پوره کولو وروسته هغه لویدیځ لوري ته مخ کړو او د لمر د ډوبیدو ننداري ته کښېناستو. د غونډۍ نه وراخوا د سمندر اوبه او د هغې نه وراخوا لمر په غرغره و. دی څو شېبې لمر ته ځیر و او بیا ورو غوندې یې ووېل " څومره ښکلې دی " بیا یې خپله خبره تکرار کړه . شېبه وروسته هغه اوبه وځبنلې او بیا لمر ته ځیر شو. چې اوس نیم په سمندر او نیم افق کی و. هغه خپل شخصي سکتر ځان ته راوبللو او وې ویېل زما په فکر په ژوند کې مې دومره ښکلې نندارە چرې نه وه لیدلې. لمر ډوب شو نو ټول خلک ورو ورو له غونډۍ راښکته شول. خو لاړه میو اوس هم پخپل پر ځاې ناست و. هغه تر ټولو وروسته راپاځیدو او له غونډۍ ښکته شو.

د هوپ ټاون د جېټي نه ورغلي یو څو کسان د لالټېن د رڼا سره د غونډۍ په لمنه کی دوی ته په انتظار و. اوس ټول خلک په تېزو قدمونو د جېټي لوري ته ورغلل. دجېټي نه وراخوا د سمندر په ژورو اوبو کی " ګلاسګو "

نومې ببړۍ ورو ورو ځنګیده او د ځراغونو لړۍ پرې له لیرې ښکاریدې. د مانښام اوو بجونه تېرې وې او رڼا ورکه وه. د لارډ میو مېرمنه د ډېر وخت نه د دې ببړۍ په یو منزل ولاړه او د خپل مېړه لاره یې څارله. د وخت د تېرېدو سره د هغې تلوسه زیاتیده. د ګلاسګو نه په لږه فاصله دوو نورو ببړیو ډاکه او سکټیا لنګر اچولې و او په دې دوو ببړیو هم مېلمانه د وایسرای په انتظار و. مېرمن میو اوس د خپل مېړه د امنیت په اړه اندېښمنه وه. هغې په تیاره کې ولیدل چې د لمر د ډوبیدو ننداره کوونکي مېلمانه ببړته را روان و. د زمکې نه په اوبو کی جوړ جېټي ته د یوې دقیقې فاصله وه. ټول مېلمانه د جېټي نه په وړو کشتیو کې ژورو اوبو کې ولاړو خپلو ببړیو ته ورتلل. د هریکېن په بې شمېرو رڼاګانو کی هغې خپل مېړه ولیدو چې د مېلمنو د یوې ډلې په سر کې وروستۍ کشتۍ ته را روان و. مېرمن میو منډې کړې چې د ببړۍ پوځي ببنډ ته د برتانیې د بري نغارې د غږولو ووایي. لارډ میو په ساحل د ماشیني کشتۍ غرارې او د برتانیې د بري نغمه واوریده او د جېټي د پوړیو نه په چټکو ګامونو یې کشتۍ ته مخه کړه. خو ناڅاپه هغه شا ته یو غږ واوریدو ، داسې لکه چې څوک په اوبو کی په پرتو تیږو ګرځیدو. هغه لکه دیو پړانګ د توپ غږ واوریدو. هم هغه شېبه یو کس د لارډ میو سره ونښتو او د برېښنا په څیر

www.safahaleem.com

تېره چاکو دوه وارې يې پکې خښ کړو. په بله شېبه دولس کسان په هغه پړانګ ډوله سړي پرېوتل. د دې کسانو په لاسونو کې ځراغونه پر زمکه پريوتل. رڼا ګانې اوس مړې وې خو وايسراى د جېټي د تختې سره تر ګونډو په اوبو کې ولاړ ولیدل شو. ده د خپل تندي نه وينبسته لرې کول. يو انګرېز افسر دولس ساتندويان د خپلې تورې په زور ليرې کړل چې هغه حمله کوونکې يې وهلو او نږدې وه چې په ټکي يې وژلې وې. دلارډ ميو شخصي سکتر سمدلاسه خپل مشر ته نږدې ورغلواو زمکې ته يې په راختلو کې ورسره مرسته وکړه. لارډ ميو په ارامه ورته وويل، " برن، دوی په ما ګوزار وکړو " بيا يې لږ په لوړ غږ وويل، " هر څه سم دي، زه فکر کوم چې زيات نه يم ټپي شوې "اوس د هري کېن رڼا ګانې بيا بلې شوې وې او په دې رڼا کې ځينو مېلمنو وليدل چې لارډ ميود لرګي په يوې تذکره کښېنول شوی او پښې يې ځوړندې وې. د ده د کوټ پر شا يو تور داغ ښکاريدو. کله چې دی يې پورته کړو نو وينې ترې راماتې شوې چې د ده مرسته کوونکو پرې خپل رومالونه وتړل يو څو شېبې دی په هغه تذکره کی ناست و خو بيا د شا پر تخته راپريوتو. د ده له خلې راوتل، " زما سر پورته کړئ "

دوی د لارې میووجود په توښنې (دخاني)کشتۍ کې یوړو د ده مرسته کوونکو ژرد ده کوټ پرېکړو او د ده پرهرونه یې په ریتاړوتړل او یا په لاسونو باندې یې د وینو د ودرولو هڅه کوله. نورو د ده لاسونه او پښې موښلې.دریو کسانو د ده سر ته اډانه ورکړې وه.

یو څو میټرو په فاصله، حمله کوونکې،لاس پښې تړلی پروت و. څه وخت چې ماشیني کشتۍ په تیاره کې روانه شوه نو په هغې لوې ببړۍ اته زنګونه وغږول شول چې د اتو بجو وخت یې ښودلو. کشتۍ چې لویې ببړۍ ته ورنږدې شوه نو ددی رڼاګانې مړې کړی شوې چې په ببړۍ ولاړو مېلمنو نه هر څه پټ وساتل شي. هلته ټولو خلکو د ماښام د ډودۍ لپاره ځانونه جوړ کړي او ځینو پکې د هغو مهیانو په اړه ملنډې وهلې چې د ورځې دوی ښکار کړې و. د لارې میووجود خپلې کوټې (کېبن ) ته ورسول شو. خوکله چې دی پخپل کټ وسملول شو نو ولاړو خلکو ته څرګنده شوه چې دې مړ و.

په هغه ببړۍ موجودوکسانو لپاره هغه شپه د هیرولو نه وه. ناڅاپه خنداګانې غلې او هرې خوا ته یوه چپتیا خپره شوه. په دې ببړۍ شپږ سوه سپاره کسان ټول غلي و. د میو د کټ سره دوو ډاکټرانو د ده پرهرونه کتل. هغه دوه وارې په چاقو وهل شوې و او د ولې له خوا د ده وجود تر

سینې سورې و. هر یو پرهر د ده د مړینې سوب کیداې شو. د مېلمنو په بلې ببړۍ د ژړا او د ویر غږ اوریدل کېدلای شو خو په کومې ببړۍ چې د میو مړې پروت و هلته بشپړه خاموشي وه. هلته ټوله شپه په تیاره کې خلک اخوا دېخوا تلل راتلل او ښایي هر چا له ځانه سره هم دغه فکر کړي وي چې "که دا زه وای نو.... "

د سپېده چاودې پروخت د لویې ببړۍ دسکام (مستول) د پاڅه لګیدلی ببرغ سرټیټ و. د دې ټول پړي ځوړند او د سپینو پر ځای خړ رنګ بادبانونو هغو خلکو ته د شپې د بوږنونکي پېښې خبر ورکوو. کومو خلکو چې هیله لرله چې میو به د ټپ له لاڅه ژوندې پاته وي اوس خبر شول چې هغه مړ و.



www.safiafaleem.com

# پوښتنې ګرويږنې

کله چې د لارډ میو وجود ګلاسګونومې ښېرې ته یوړل شونوڅو کسانو د ګوزار کوونکي ته پام وکړو. دې کس دبندیانوځانګړی لباس اغوستی و چې تورې لیکې یې لرلې. د هر بندي په دې لباس د هغه نومره لیکل شوې وه. او یو انګرېز افسر ولیدل چې د دې سړي په لباس ۱۵۵۵۷لیکلي و.ده خپل نوم شیر علي وښودلو.

شېر علي هم هغه ښېرې ته ورواستول شو چې د ده مقتول پکې پروت و. د لارډ میوخارجه سکترتري پوښتنې پیل کړې چې په هندي ژبه کې وې .



افسر. دا وژنه تا کړې ده؟

شیر علي. هو، ما دا کار کړی دې.

افسر. ولې دې داسې وکړل؟

شیر علي. د خدای پاک حکم و.

افسر. تا سره په دې کار کې بل څوک مله و.

شېر علي. بې له خدایه ما سره بل هیڅوک مله نه و.

د پېښې په بله ورځ دفروري په نهمه نېټه انګرېز حکومت مېجر جنرال ستېوارټ د سېشن کورټ مشر وټاکلواو د شېرعلي پر ضد د دولسو شاهدانوبیانونه واخیستل شول. په دوی کښې ځینې بندیان وچې یې وویل، د پېښې پر سهار کله چې د توپو د ډزو غږ واوریدل شوچې د یو مهم مېلمه په راتلو د سلامي په توګه به یې داغول، نو شېر علي د ږیرې د خرېلویوچاقوراواخستواوهغه یې په تیرې تېره کړو هغه وخت یې له ځانه سره ویل چې "نن به دوه کسان ستاقربانیان وي. د ده هدف ښاي وایسرای او د جېل د داروغه دواړو وژل و.

د محکمې لپاره فېصله اسانه وه خوانګرېزانو شېرعلي د غرغره کولو نه وړاندې دا معلومول غوښتل چې هغه د قتل پلان څنګه جوړ کړی و. هم دا وه چې دوی د پلټنو لپاره د خپل پوځ یو پښتون چې د هغې سیمې اوسیدونکې ود یو بندي په جامه کې ورواستو. په څوورځو کې هغه د شېرعلي باور تر لاسه کړو. هغه ته یې وویل چې ټول پښتانه دده په کار ویاړي یا دا چې ټول قام به د هغه دا کارنامه یاده ساتي . هغه شېرعلي ته ډاډ ورکړو چې د قام خلک به یې په سندرواو لنډیو کې ستایي. خودا یې هم ویل چې د نورو خلکو د خبرولو لپاره پکار ده چې شېرعلي ورته ټول حال ووای.

شیر علي ورته ووېل چې دی ټوله ورځ دوایسرای سره لکه د سیوري ګرځیدو خو هیڅوک په ده پوهه نشول. ده په هغه ورځ د اوبو نه د پوري وتلو هڅه هم وکړه چې وایسرای ته ځان نږدې کړي خو پاته راغلو. دی په هغه غونډی ( هېریټ) هم ورختلې و چې ټولو ورباندې د لمردډوبیدو ننداره کوله خوموقع یې پېدا نکړه. بیا دی هم د نورمېلمنو سره ښکته راکوز شو. هغه ناهیلې شوی و او خپل کار یې د بلې ورځې لپاره ځنډولی و. په هغه ماښام د ده ارمان پوره شو چې ښکار ورته پخپله رانږدې شو. کله چې وایسرای د جېټي پر تختو وروستي ګامونه اخیستل نو د څراغونو په رڼا کې دده وجود تر نورو ټولو ورته واضح ښکاره شو او دی په یوې شېبې کې د ساتندویانو له منځه تېراو د سترګو په رپ کې یې ورباندې ټوپ ووهلو. ده ومنله چې تر ډېرې مودې د یو پېرنګي د وژلو په انتظار و. شېرعلي په دې راضي شو چې د ده عکس دې واخستل شي او پر هغه محال دې لکه د ماشومانو خوشاله ښکاریدو. د انګرېز چې څه توقع وه هغه پوره نشوه. دوی شک من و چې د افغانستان پېښې به ددی قتل سره تړلې وي. خوشیرعلي د دې پوښتنې په ځواب کې چې نور څوک ورسره په دې جرم کی شامل او یا بل چا ورته ویلي و، بیا بیا هم دا ویېل چې د خدای له خوا ورته امر شوی واود خپل ایمان او د دین لپاره یې دا

www.safiahaleem.com

کارکړی دی. ده دا هم ویل چې د شخصي گټې لپاره یې دا کار نه دی کړی. او نه یې له چا بدل اخیستو، بس د یو لوی سړي وینه یې تویوله.
دې پېښې د برتانیې د حکومت پایې ولړزولې او هر څومره چې دوی د قتل د اصل هدف په اړه پلټنې کولې، څه یې نه موندل. په دې اړه یو راپورکې انگرېز پلټونکی، هنټر،د شیر علي په اړه لیکي ، په انډېمان کې " هغه د ده د کریکټر په اړه دا اندازه ولگوله چې دی یو خاموشه اومودب سړی واو لږه موده وروسته یې ورته دسلماني ( ډم ) مسلک وروښودلو او په هوپ ټاون کې یې د هغو کسان سرونه او ږیرې خریېلې چې د خوشي کیدوټکټ ورته ورکړې کیدو". یعني هغه کسان چې د بند د سزانه وروسته خپلو کورونو ته تلل.
دا چې شیر علي د اسلام په دین ټینگ ولاړ و، نو دا اندېښنې پېدا شوې چې کیدای شي ده د وهابیانو په لمسه به دا کار کړي وي.
هغه درې کسان چې د پټنې د وهابي شورا غړي او ۱۸۵۷م د پاڅون پر وخت د جهاد اعلان کړې ود انډېمان په جېل کی وو او امکان ددې و چې هغوی شېرعلي ته د دی حملې لپاره ویلي وي او یا ورسره په پلان کې شریک وي. د وایسرای د سفر خبره پټه نه وه او ټول بندیان له دې خبر و. شېر علي که ریښتیا د هغه مذهبي ( وهابي) مشرانو سره ناسته

پاسته لرله او د وایسرای د وژلو پلان یې له دوی سره جوړ کړی و نو بیا دا هم امکان وچې دوی له هغه دا غوښتنه کړې وي چې مونږ به دې د شهید په توګه لمانځواو یا ده ورته ځان وړاندې کړي وي چې دا کار به تر سره کوي ځکه دې د خپل ژوند نه ستړې و. داسې هم کیداې شوه چې وهابي مشرانو په ده شک کړي وي چې د انګریز جاسوس و او له دوی د حال اخیستو لپاره ورسره مل و ځکه چي ده ډېره موده د انګریزانو سره نوکري کړې وه. خوانګریزانو د دی خبرې هم هیڅ ثبوت پیدا نکړوچې شېرعلي دوهابي بندیانوسره اړیکې لرلې.

د شېرعلي د شیانو نه په فارسي ژبه لیکل شوي څو لیکونه وموندل شول او ددوی له ژباړې وروسته انګریزانو هر توري ته پام وکړو چې د کوم سازش نښې پکی ومومي. د نورو ټولو بندیانو تر منځ د اړیکو جاج هم واخیستل شو . دشېرعلي د کورنۍ په اړه بېلې پلټنې وشوې چې دوی له چا سره اړیکې لري خو هیڅ یې پېدا نکړل، چې د ده د وهابیانو سره څه اړیکې وښاي.

د دې پېښې په فایلونو کې په پېنسل لیکلې یو نوټ دی چې په ۹ فروري، ۱۸۷۲ م د ماپښین لس کم دوه بجې ولیکل شو.او لیکونکې یې جېمز جي راپرکرزن و چې پخپله یو بندي او د نورو بندیانو څارنه یې کوله.

دانوټ د راپور سره ښاغلي هلتهن ته چې دپلټنو مشر سکترو وړاندې کړې شو. په دی نوټ لیکلي و،

" په دې محکمه کې کله چې له هغه (شیر علي ) پوښتنه وشوه چې پخپله دفاع کې څه ویل غواړي نو قاتل وویل چې قاضي له شاهدانو چې څه واوریدل، له دې زیات هیڅ ویل نه غواړي او قاضي هر څه چې یې خوښه وي فېصله کولای شي او کله چې په بلې دنیا کې حساب کیږي نو هله به قاضي خبر شي. هغه زیاته کړه چې دی د خپل ژوند لپاره به چرې هم له انګرېزانوخواست نه کوي خو په کومه ورځ چې دی په دارځړول کیږي نودی به یو بیان ورکوي. ده وویل چې "بې له خدایه بل هیڅوک په دی کار کی ورسره مل نه و "

د محکمې پروخت شېر علي ووېل چې پدی کار هغه خپل ورور عبدالله سره یو والې ښودل غوښتل چې قاضي نارمن یې وژلې و.

انګرېزان په دې خبره پوهه نشول اوداسې یې وګڼله لکه چې شیر علي په ریښتیا د عبدالله ورور و. په جمرود کی د شیر علي د کورنۍ په اړه نورې پلټنې پېل شوې خو څرګنده شوه چې عبدالله د ده ورور نه و. هغه عبد الله چې قاضي نارمن یې وژلې و هغه هم پښتون و او ښاي په اندېمان کې

شیر علي د هغه پیښې نه خبر شوی و. هغه پېښه د شیر علي لپاره ممکن یو بېلګه او د غچ اخیستلو بانه شوي وي.

دوه اتلان

د وایسراې لارډ میومړی چې یې د انډېمان نه کلکتې ته راوړونو په بندر ولاړو زرګونو خلکو چې د ده کارونه یې ستایل په ویراو ماتم د ده دمړي درناوې وکړو. دانګلستان اود هند اخبارونو د ده په کارنامو رڼا واچوله چې د خپل وطن په خدمت کې یې خپل سر قربان کړی و.

په هند کې د مسلمانانو او هندوانو مشرانو د میو پر وژنه یو شان د غم او د تاسف احساسات ورښودل او د هغه مېرمنې ته یې د غمرازۍ لیکونه ورواستول. د پېرنګیانو لپاره لارډ میو یو اتل و.

د هغه مړې د کلکتې نه په اولسم فروري ډېفني نومې بېړۍ کې ایرلېنډ ته روان کړی شو چې هلته د جنګ د قرباني په توګه یې هرکلی او درناوی وشو. په ۲۵ اپریل په ډبلن کې د لارډ میوجنازه وشوه. له ده اوه اولادونه پاته و. د مې په میاشت کې ۱۸۷۲ م دانګلستان په پارلیمان کې دمشرانو ( لارډانو) جرګې مېرمن میو ته ټول عمر لپاره د کال زر پونډه وظیفه د ورکولو لپاره رای ورکړې.

دی د ایرلېنډ په کلډېر کې د هغه کورنۍ هدیره کې د وړوکې کلیسا تر څنګ ښخ کړی شو. هند ته د تللو نه وړاندې لارد میو دې هدیرې ته ورغلی و او د کلیسا مشر ته یې خواست کړې و چې که دې مړ شو نو دلته د ښخولو اجازه ورله ورکړي. په نولسم اگست ۱۸۷۵ م کې د ایرلېنډ په کاکرماوتهـ نومې ښارپه منځ کېود لارډ میومجسمه ودرول شوه چې وربانديې اته سوه پونډه لګښت راغلې و او دا لګښت د هغه ځاې د خلکو له خوا پوراکړی شو. د مرمرو په دې مجسمه کې لارډ میو د وایسراې په لباس کې ولاړ دې او اوس هم شته.

کال وروسته د مارچ د میاشتې په پېل کې په وایپر جزیره کې د یو بندي دغرغره کولو تابیا شوې وه. د پېرنگیانو پلټنې پای ته رسیدلې وې او په دې کې دوه خبرې څرګندې شوې. یو دا چې شېرعلي په بند کی د ځان سره شوې ناانصافي خپه و اوبل د قتل پلان یې له وړاندې جوړ کړې و. شېرعلي د یو لوی انگرېز د وژلو لپاره درې کاله انتظار کړی و اود محکمې له خوا هغه ته د مرګ سزا ورکړی شوه چې وروسته د سترې محکمې له خوا تصویب کړی شوه.

خو شېر علي د رحم او د کرم لپاره خواست ونکړ.

پېرنگي پلټونکي هنټر د شېر علي د ژوند د وروستيو ورځو په اړه ليکي چې دی به زر په قهر شو او د خپل مرګ په انتظار ده د هر شي مخالفت کاوو. هغه پښېماني نه ښودله او په خپلو کړووړو کې سر زوری شو. هنټرد لارډ ميو قتل پخپلو سترګو ليدلې و او وروسته د شېر علي کړه وړه يې هم څارل. هنټر وايي چې انګرېز حکومت له شيرعلي سره ښه چلن کوو او ځينو چارواکو د دی مخالفت کړی و. ( مانا داچې دانګرېزانو په اندد هغه وخت د هند په حالاتوکی دشېرعلي سره ډېره ښه وضع شوې وه او د نورو بنديانو په پرتله ده ته ځينې امتيازات ورکړی شوي و) خو هنټر د شېرعلي هغه غوښتنه ونه منله چې د انګرېز په فکر د يو سياسي شهرت او د ده نوم د يو اتل په توګه خلکو ته د ورښکاره کولو هڅه وه.

د پنجاب د اتلانو په تذکره کی د شېر علي خان نوم هم يادېږي. هلته تاريخ ليکونکي وايي چې شېر علي د پنجاب پښتون و چې د خپل د جېل د مودې بند پوراکولو وروسته هم خوشې نه کړې شو. دی د ۱۸۵۷ د پاڅون نه وروسته لومړی مهم شهيد و. د پنجاب د سيکانو دا خبره يو څه ريښتيا ده ځکه هغه وخت د صوبه پښتونخوا سيمه په پنجاب کی شامله وه. خو دا هم يوحقيقت دی چې په هند کې شېر علي يواځينې

کس دی چې د انگریزانو دومره لوړ پوړی کس چې په هند کې د بریطانیې د حکومت استازې و، په یوازې ځان ووژلو.

په ۱۱ مارچ ۱۸۷۳ م کې د وایپر جزیرې د غرغرې رسمي کارونه پیل شول. یو ډاکټر هم هلته ولاړ و. د پنجاب د اتلانو کیسه لیکونکي واي، "شیر علي هلته راوستل شو نو په څېره یې مکمل سکون و . هغه د غرغرې پړې ښکل کړو او چیغه یې کړه ، " کله چې ما دا هوډ وکړو نو ما هم هغه وخت ځان په دې ځاې کې تصور کړو ، بیا یې هلته ولاړو مسلمانانو ته چې د ده د لیدو لپاره ولاړ و، وویل، وروڼو ، ما ستاسو دښمن ووژلو تاسو دي شاهدان يئ چې زه یو مسلمان یم، د دی وېنا سره هغه د شهادت کلیمه دوه وارې تېره کړه او درېم وارې پوره نکړای شوه ځکه هغه محال د ده ساه وتلې وه "

د کیسو نه پرته د انگریزانو د غرغرې کولو کار هاغسې نه و چې خلکو به یې ننداره کوله. زیات وخت دا غرغرې به د سپېدې چاودې نه وړاندې تر سره کیدې. بې له ډاکټر، دوو غرغره کوونکو، د مړي د سمبالولولپاره د دوو کسانو او یو پوځي افسر چې دا هر څه به د هغه تر څارنې لاندې کیدل، نورو خلکو ته هلته د ودریدو اجازه نه وه.

د غرغرۍ نه یو ورځ وړاندې، بندي به ولامبل، پاکې جامې به یې ورله ورکړې، هغه خواړه چې د ده خوښ و،ورته راوړل شول چې د ده وروستۍ ډوډۍ به وه. د ده نه وروستې پېغام چې زیاتره د کورنۍ د غړو لپاره به یې و، زباني یا په لیکلي بڼه واخستل شو اوپه یوې ځانګړې کوټې کې به یې بند کړو.

د غرغرې نه وړاندې شیر علي ته یو وروستی پېغام واورول شو. دا پېغام د لارډ میو د کونډې له خوا وچې " خدای دې تا وبخښي، هم هغسې لکه چې مونږ ته بخښلې یې. "

د غرغرې نه وړاندې هغه یو انګرېز افسر ته وویل، مونږ هم ګناهګار یو او تاسو هم خو فېصلې به په بلې نړۍ کې خدای پاک کوي. په فایلونو کې د شیرعلي هم دا خبره ثبت ده. هم هغسې چې انګرېزانو غوښتل د شیر علي د مړي او د ده د قبر او د شناخت ځای پټ وساتل شوچې څوک پرې د یادګار ځلې جوړ نکړي. خو زیات امکان د دې دی چې هم هلته په وایپر جزیره کې به یې خښ کړو.

هغوی د ده نوم، قام او د کلي په اړه هیڅ رېکارډ نه دی ساتلي او یواځې د میو د قتل د پلټنو په دوسیو کې یې نوم پاته دی.

# جرم که بدل

د۱۸۷۲ نه تر ۱۸۷۴ م پورې په پېښور کې يو پادري وردنګټن جوک نوميدو. دی د هغه وخت د سياسي وژنود کلتور په اړه ليکي. په پېښور کې هر وخت د وژنې امکان موجود و. مسيحي مبلغين او انګريز افسرانو به خپل سرونه په لاس کې ګرځول. ملايانو به خپلو شاګردانو ته دادرس ورکاوچې جنت ته د تللو باوري لاره د پېرنګيانو وژل دي. يوه ورځ زه د نورکله په شان ښوونځي ته ولاړم. هلته د رسيدو سره د فارسي ژبې مشر استاد، خليفه ميان نتهو، چې يو مسلمان خو ما سره ډېر ښه و، راته وويل چې د لوبو په مېدان کې يو لېوني ما پسې لټون کوو او يو شمېر مسلمانو هلکانو نه يې پوښتنه کوله چې زه څه وختې راتلم او څنګه ښکارم . ښاي هغه داسې فکر کړی وي چې هغوی هم مسلمانان دي نو ورسره به ارو مرو مرسته کوي. خوماشومانو زما لپاره يو څه د ملګرتيا احساس کوو نو په دې وبوږنيدل اود خپل فارسي استاد ته يې خبر ورکړو. له نېکه مرغه زه د هغه سره مخامخ نشوم خو د دی راپور مي سمدلاسه د پوليسو مشر

ته وکړو. په دې کې شک نشته چې هغوی به بیا د دې سړي خارنه پېل کړې وي خو ما بیا په دې اړه څه نه و اوریدلي.
د شیر علي د جرم په اړه انګرېزانو پخپل قانون او اصولو چلن کوو. دوی د هند د لوې وچې واکمن شول خو دلته اوسیدونکو قامونو او قبایلو د دودونو او روایاتو په اړه یې پوهه نه وه. له بده مرغه په دې حالاتو کې د دوی د سزا سیستم دیو مجرم په پېژندلو کې پاته راغلو. هم دغسې پښتانه په دې نه پوهیدل چې د انګرېز قانون ولې هاغسې و. شېر علي د یو قامي دښمن وژل د سره جرم نه ګڼلو. او د غرغرې نه وړاندې هغه خپل اقرارکې دا وویل چې کله په دې سزا هغه تورو اوبو ته یې وراستولو نودا یې یوه ناانصافي ګڼله اوپه بدل کې یې غوښتل چې د لوړ کچ یو پېرنګی مړ کړي. د شېر علي په اړه د انګرېز په دوسیه کې لیکلي دي. "
شیر علي ،عمر دېرش کاله، کلک هډونه او ښه ونه، د ولي زوې، د جمرود سره نږدې د خېبر د کوکي خېلو او د کابل د سیمې د پخري( پکري) اوسیدونکې... په دې کې هیڅ شک نشته چې دی یو با جراته ځوان دی او د مېړني کرېکټر خاوند دی. دی نور هیڅ د بد اخلاقۍ ماضي نه لري. که څه هم دی په سن کې زیات و خو قوي اوزړه ور و. د خپلې مړینې تر نېټې پورې دی چرې هم خپه نه ښکاریدو. "

د لارډ میو د قتل د پلټنو د شاهدي پر وخت نورو بندیانو وویل چې شېرعلي په هغه ورځ د مېلمه د راتگ نه وړاندې د ټولو ملگروسره خدای په اماني کوله. هغه داوړو نه جوړه خوږه ډودۍ مسلمانو بندیانو ته او چیني ( بورا) هندوانو ته ویشلې وه.او په دې هغه خپلې ټولې سپما شوې پیسې خرڅې کړې وې. کله چې پوښتنه وشوه چې ایا دوی داسې نه گڼله چې دا ټولې نښې د یوکس د خوا د خپلې مړینې تیاري وه نو دوی ووېل چې دوی درباندې پوهه نشول. که په بندیانوکې چا دا خبره کړې وای چې هو دوی درباندې پوهیدل نو ارومرو انگرېز به ورته ویل چې بیا نو ولې یې چارواکي خبر نکړل. او که خبر وای نو مانا دا چې تاسو هم ورسره په دې جرم کې شریک وئ.



هغه کوټه چېرته چې شېرعلي په دار کړل سو

دا چې پښتنو ولې د انگرېزانو مشران وژل؟ داسې ښکاري چې د وهابیتوب نه علاوه انگرېزانو د دې قتلونو بل څه دلیل نه لیدو.
دوی د شیرعلي دا جرم سیاسي گڼلو خو په هند کې یو بل نامتو جنرال نېپیر دا خبره رد کړه چې د شېرعلي موخه سیاسي وه. د هغه تحلیل دا و چې شیرعلي د بې انصافۍ بدل اخستی و. بل خوا هنټر وایي چې دا د سیاسي وژنې یو داسې بېلگه وه چې پخوا ورباندې ښه سوچ او پلان جوړ شوې و.
د هندوستان نه هغه مسلمانان چې خپله مبارزه یې جاري ساتلې وه، د پښتنو سیمې ته ورتلل. په دوی کې یو سید احمد شهید ( بریلوي) و چې په ۱۸۳۱ م کی د سیکانو له خوا په بریکوټ کې ووژل شو.د انگرېزانو ځینې لیکنې هغه ته هم د وهابي خطاب کوي. جارج اېلن چې د انگرېزي ورځپانې " پواینیر " مالک و هغه وخت د لارډ میو تر څنگ ولاړ و چې شېرعلي پرې حمله وکړه. هغه د ۱۸۵۷ م د پاڅون نه وروسته پخپله لیکنه کې د ډېلي په اړه وایي، چې دلته اوسیدونکي ټول مسلمانان له ښاره تښتیدلي واوانگرېزانو هم دوی خپل دښمنان گڼل. د کلکتې د قاضي نارمن وژنه هم دوی د وهابیانو سازش گڼلو او لارډ میو د کلکتې نه

له روانیدو وړاندې په دې پېښه خپل هوډ څرګند کړی و چې دی به وهابیان له منځه وړي.
د شیرعلي له خوا په دې خبرې ټینګار چې ده د خدای په امر دا کار کړې و د پېرنګیانو شک په یقین بدلوو. هغه د لارډ میو د وژلو لپاره خپله تیاري داسې نیولې وه لکه چې خبر و چې د حملې نه سمدلاسه وروسته دی به ونیول شي. هغه په دې هم باوري و چې دی به محاکمه او غرغره کیږي.
پروفېسر سېن. پخپل کتاب کی لیکي. "یو زړه سواندي قاضي ده (شیر علي ) ته ژوند وبخښلو او دخپل تربور د قتل د سزا مرګ پرځای جزایر انډېمان ته یې ورواستاو. په یو لحاظ تر څو چې شېرعلي وایسرای نه و وژلې، دی یو مودب او شریف قاتل و. یو داسې کس چې په ډېرو ځانګړو حالاتو کې یې قتل کړی و. چې هغه حالات د پېرنګیانود مستمرې قاضي هم منل او ورسره یې زړه سوی لرله "
خو پوښتنه دا ده چې ایا دا زړه سوی د منلو وړ وه؟ د غرغرې پر ځای بدنامو تورو اوبو ته وراستول څومره مناسب کار و؟ د پنجاب د شهیدانو په کیسو کی یوه داسې ده چې په بند کې یو وارې شیر علي له چارواکوخواست وکړو چې مور یې ناروغه ده او دی د هغې خدمت لپاره کور ته تلل غواړي. خو د ده خواست رد کړی شو. وروسته مور یې مړه

شوه نو د شېرعلي نامېندي په قهر بدله شوه. هغه د انګرېزانو نه سخت مایوسه شو.

هم دا نامیندي دلارډ میو د وژنې سوب و. شیر علي یو ساده او دودیزه پښتون وچې د خپلو بادارانو ته یې په صداقت خدمت کړې و. د دی په بدل کې هغه هم د ښو چارو توقع لرله خو د هغه په اند انګرېز ورسره جفا وکړه. شېر علي ته د پښتنو له خواهم د شهادت درجه ورنکړې شوه. په هغه خاوره کی چې بهګت سنګهـ او اودهم سنګهـ د هندوانو او سیکانو له خواهم په دې ډول جرمونود شهیدانواو د ازادی د اتلانو په نوم یادیږي، شېرعلي د انډېمان په جزیره کې خپل بدل پخپله اخلي اود یو بل پښتون عبد الله سره چې د کلکتې قاضي نارمن یې وژلې وځان نږدې ګڼي. د شیر علي یواځینی عکس هم هغه دی چې د لارډ میو د قتل نه وروسته انګرېزانو اخستې و. پوښتنه دا ده چې که دی وهابي وای نود عکس اجازه یې ولې ورکوله؟

د یو پښتون په حېث چې ورسره ظلم شوي وي، ایا تاسو به دا کار کړې وای؟ ایا دا خبره ریښتیا ده چې پښتانه د بدل اخیستو دود سم دود ګڼي؟ ایا د بل انسان دوژلو پر ځای د بدل اخیستو کومه بله لاره هم ورسره شته او که نه ؟

www.safianaleem.com

د لارډ میو مړینه نه وروستې او نه لومړی سیاسي قتل و خو انګرېزان په دې کامیابه شول چې د یو سیاسي قتل نه یې عادي خبره جوړه کړه او د خپلو ګټو لپاره یې شېر علي یو عادي قاتل وګڼلو. دوی په قصد دا کارکولو چې نور خلک بې حوصلې شي. دوی د شهیدانو څلي نه غوښتل په تېره بیا خپلې یوې مستمرې کې. خو ایا دوی د داسې نورو پېښو په مخنیوي کې بریالي شول؟ هغه اور چې په ۱۸۵۷ م کی د هند د خپلواکۍ پاڅون بل کړې و، تر اوسه روان دې چې د پښتنو سیمې یې نارامه کړي دي.

د شیر علي دا کار که د پښتنو لپاره یوه میړانه وه نو هیچاتر اوسه دا میړانه نه ده ستایلې. هغه خو پرېږده، تر اوسه څوک خبر نه دي چې دې څوک و او کورنۍ یې څه شوه؟ په پښتو لنډیو کی مې یوه لنډۍ ورته وموندله چې،

تا انګرېزان پرې ټول خفه کړل
یا به پانسي شې یا به وخورې پرې قېدونه

# اوسنۍ انډېمان

په دویم نړۍ وال جنګ کې د انډېمان جزیرې د جاپان لاس ته ورغلې .
په ۱۹۴۳ م کال د دسمبر په میاشت کې د هند د خپلواکۍ یو مخ کښ
سبهاش چندربوس چې د انګرېزانو پر ضد دجاپان سره یې لاس یوکړې و
په دی جزیرو د خپلواکۍ بېرغ پورته کړو. د جنګ نه وروسته دا جزیرې
د لږ وخت لپاره انګرېز حکومت ته بېرته ورکړی شوې . هغه وخت دوی
هلته د بندي خانو د ختمولو اعلان وکړو . دا وړاندیز یې هم وکړو چې
هلته پاته ټول خلک به د ماهي ګیري ، چارتراش او د زراعتو په ډګر کې
ونډه ولري اود دې په بدل کې حکومت به دوی ته د هند لویې وچې ته د
بېرته تللو ټکټ ورکړي. خودا جزیرې په ۱۵ اګست ۱۹۴۷ کی دخپلواکه
هند یو برخه شوې او هم هغه وخت دا بدنامه بندي خانې تشې شوې.
وروسته د خپلواکۍ د میوزیم په توګه خلکو پر مخ پرانستل شوې. په
وایپر نومې جزیره کې د شېر علي دغرغرې هغه ځاې تر اوسه هم هغسې
ساتل شوې دې اوس یې سېلانیان د ننداري لپاره ورځي.

www.safiahaleem.com

# سرچينې


۱. د انډېمان جزيرې. ايف. داس. ساوتهه اېشيابکس. ۱۹۸۸ م
۲. لومړې جهاد. هېلن جېمز. استرېليا نېشنل يونيورستېي ۲۰۰۹
۳...په برطانوي هند کې د وهابيت پتې ريښې. چارلس ايلن. د نړۍ د پاليسۍ ژورنال. جولاي ۲۰۰۵ م.
۴...د انډېمان د جزيرو سرکاري وېب پاڼه
۵. پښتو لنډۍ. د افغانستان د علومو اکاډيمي. د ژبو او ادبياتو مرکز. ۱۳۶۳ مخ ۸۱.


www.safiahaleem.com